# لوګر پوهنتون

## علمي او محصلانو چارو معاونیت

## ښــــوونـې او روزنـې پوهـنځـی



"اِنَّمَا بُعِثْتُ مُعَلِّمًا" الحدیث



## د پوهنځي مخینه

د لوړو زده کړو وزارت د درنو مقاماتو د (۵۷۵) ګڼې ۱۳۹۲/۱۲/۱۳ نېټې وړاندیز او د پخواني حکومت د ریاست مقام د (۱۲۰۰) ګڼې ۱۳۹۳/۰۲/۲۰ نېټې حکم پر بنسټ، د لوګر د لوړو زده کړو مؤسسې د ښوونې او روزنې پوهنځی د (ریاضي ـ فزیک) او (کېمیا ـ بیولوژي) په نوم له دوو ډیپارټمنټونو سره خپل علمي او اکاډمیک فعالیتونه یې پیل کړل.

نوموړي پوهنځي د خپلې پیلیزې دورې په اوږدو کې د دوو کلونو لپاره د یادو څانګو له لارې د تدریس چارې پر مخ یوړې. وروسته د تقنین او مؤسساتي انکشاف آمریت د (۱۱۴) ګڼې ۱۳۹۴/۴/۹ نېټې مکتوب او د علمي بورډ د ۱۳۹۸/۴/۸ نېټې پرېکړې پر اساس، دغه دوه ډیپارټمنټونه په څلورو جلا څانګو ـ (ریاضي، فزیک، کېمیا او بیولوژي) ـ وویشل شول.

په دوام کې، د ملکي لوړو زده کړو مؤسسو عالي شورا د (۵) ګڼې ۱۳۹۸/۵/۱۵ نېټې د (۱۷) بند د تصویب له مخې، د (اسلامي ثقافت) او (انګلیسي ژبې او ادبیاتو) دوه غیر فارغ ورکوونکي څانګې د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې رامنځته شوې. ورپسې د لوړو زده کړو وزارت د (۱۲۶) ګڼې ۱۳۹۸/۶/۱۴ نېټې مکتوب پر اساس، د بیولوژي او ریاضي څانګو لپاره د شپې برنامې هم په همدې پوهنځي کې پیل شوې او د محصلینو پر وړاندې یې خپلې دروازې پرانیستې.

د وروستیو پرمختګونو په لړ کې، د وزارت عالي شورا د (۱۰۶۹/۲۶۲۲) ګڼې د ۱۴۰۲/۲/۲ نېټې د (۸) بند د تصویب پر اساس، د کمپیوټر زده کړې څانګه د ښوونې او روزنې پوهنځي په چوکاټ کې تاسیس شوه. همدارنګه، د اسلامي ثقافت غیر فارغ ورکوونکې څانګه د فارغ ورکوونکې څانګې په کچه ارتقا ومونده او د (اسلامي علومو او فرهنګ) تر عنوان لاندې تأیید شوه.

اوس مهال د ښوونې او روزنې پوهنځی د اوو فارغ ورکوونکو څانګو لرونکی دی چې په کې د تجربې، علمي وړتیا او مسلکي پوهې ښښتن استادان د محصلینو د روزنې، علمي څېړنو او اداري چارو مسؤلیت په اغېزمنه توګه پر مخ وړي. تر دې دمه دغه پوهنځي په (۸) دورو کې د هیواد د علمي او مسلکي خدمتونو ډګر ته د سلګونو فارغینو د وړاندې کولو ویاړ لري، کوم چې د ښوونې او روزنې په برخه کې ټولنې د بنسټیز پرمختګ لپاره ارزښتناک رول لوبوي.

د پوهنځي رهبري په ژمنتیا سره هڅه کوي چې محصلین د اسلامي فکر او ملي روحیې په رڼا کې وروزي او هغوی د نظام، هېواد او ټولنې د خدمت لپاره د متخصصو او مسلکي کدرونو په توګه وړاندې کړي.



## د پوهنځي لرلید

ښــوونـې او روزنـې پوهنځی هڅه کوي چې د ټولنـې اړتیاوو او د کار بازار ته په کتو، د څېړنو او مسلکي ښوونکو روزلو په برخه کـې د هـیواد په کچه د یو با اعتباره او مخکښ اکاډمیک بنسټ په توګه ځانګــړی مقـام خپل کړي.

## د پوهنځي رسـالت

ښـوونې او روزنـې پوهـنځی په لازمـو مهارتونو، عصـري میتودونو، ښوونیزه ټکنالوژۍ، اسلامـي او ملـي روحیـې سمبال مسلکـي، ژمن او مبتکـر ښوونکـو روزل او ستونزو ته علمـي حل لارو لټولو په موخه د څېړنو ترسره کول خپل مـاموریت ګڼي.

## د پوهنځي ارزښـتونه

- اسلامي او ملي ارزښتونو ته ژمنتیا.
- د هیواد نافذه قوانینو، احکامو، فرامینو، او لوایحو ته درناوی.
- صداقت، عدالت او تعهد.
- کاري ژمنتیا او پرمسلکیتوب باور.
- چارو کـې کیفیت ته ځانګړې پاملرنه.
- شفافیت او حساب ورکونه.
- د مسؤلیت احساس.
- خلاقیت او نوښت.
- د فساد او تعصب په وړاندې مبارزه.
- د مشارکت اصل ته په کتلو سالم رقابت کول.

## د پوهنځي تشکیل

په ښوونـې او روزنـې پوهنـځي کې (۴۵) تنه علمي کادر غړي چې(۳) تنه پوهندوي، (٦) تنه پوهنمل، (۱۳) تنه پوهنیار او (۲۳) تنه نوماند پوهنیار علمي رتبو په کچه چـې (۱) تن دوکتورا ، (۲۱) تنه ماسټرۍ او (۲۳) تنه لیسانس په کچه تحصیلي سند لري د تدریس چارې مخې ته وړي.



## علمي برنامې

دا مهال د ښـوونې او روزنـې پوهنځي تر چتر لاندې (۷) څانګې د لیسانس په کچه محصلان روزي.

۱• کیمیا څانګه ۲• بیولوژي څانګه ۳• ریاضي څانګه
۴• فزیـک څانګه ۵• اسلامي علومو او فرهنګ څانګه
۶• انګلیسي ژبې او ادب څانګه ۷• کمپیوټر زده کړې څانګه

## د پوهنځي کمـېټې

۱• کیفیت لوړوې کمیټه ۲• تحقیق کمېټه ۳• نصاب کمېټه
۴• ازموینو کمېټه ۵• ستراتیژیک پلان کمېټه
۶• نظم او ډیسپلین کمېټه ۷• دعوت او ارشاد کمېټه
۸• الکترونیکي زده کړو کمیټه ۹• صحت او سرسبزۍ کمېټه
۱۰• محصلانو کمېټه ۱۱• فرهنګي چارو کمېټه

## محصـلانو لپاره اسانتیاوې




د ښوونـې او روزنې پوهنځی محصلانو لپاره په عصري وسایلو سمبال **معیاري او مجهز ټولګي** او د مطالعې لپاره **آرامه او مناسب چاپیریال** لري.

اړیکي
Facebook: ښوونې او روزنې پوهنځی – لوګر پوهنتون
Email: ibrahimnoori571@gmail.com
Whatsapp: 0777702952






همدارنګه، یاد پوهنځی محصلانو لپاره یو **فعاله لابراتوار** لري چـې د بیولوژي، کیمیا او فزیک څانګو محصلانو ته پکې د عملي درسونو په وړاندې کولو کې ګټه اخیستل کیږي.




په یاد پوهنځي کې استادانو او محصلانو لپاره **مجهز کتابتون** هم موجود ده، چې کولي شي کتابونه په منظم شکل مطالعه کړي.

## فارغانو لپاره کاري فرصتونه

- ✓ په پوهنتونونو کې علمي کادر کې شمولیت
- ✓ پوهنې وزارت اړوند مسلکي انکشاف کې د جذب فرصت
- ✓ خیرنیزو ادارو کې د خیړونکو په توګه د جذب ورتیا
- ✓ د ښـوونځیو د ښوونکو په توګه د جذب فرصت
- ✓ د لابرانټ په توګه د جذب فرصت (ساینسي څانګې)
- ✓ د ژباړن په توګه کاري فرصت (انګلیسي څانګه)
- ✓ لابراتوارونو مسلکي غړي په توګه د جذب ورتیا
- ✓ د درملو او خوړو معینیت کې د مسلکي غړي په توګه د جذب ورتیا
- ✓ اتومي انرژۍ او علومو اکاډمۍ علمي کادر کې شمولیت